UNITED NATIONS HUMAN RIGHTS
OFFICE OF THE HIGH COMMISSIONER

COVID-19 RESPONSE

GUIDANCE
COVID-19
20 April 2020

# د کوېډ-۱۹ لارښود

***کوېډ-۱۹ د ټولنو، دولتونو، مجتماعاتو او افرادو یو ازمون دی. اوس د دغه وایروس د مخنیوي او د هغه د خپرېدو د مخنیوي لپاره د طرح شویو تدابیرو د اغیزو د راکموني لپاره چې زیاتره یې غیر ارادي دي، د پیوستون او همکارۍ وخت دی. د اقتصادي-ټولنیزو، کلتوري، مدني او سیاسي حقونو په ګډون، په ټولو برخو کې بشري حقونو ته درناوی د عامې روغتیا د غبرګون او له دغې وبا څخه د رغېدنې لپاره خورا مهم دي.***

## روغتیا پالنې ته لاس رسی

- روغتیايي ستراتیژۍ ګانې نه باید یوازې د دغې وبا روغتیايي بعدونو ته بلکې همدارنګه د بشري حقونو او د روغتیايي غبرګون د یوې برخې په څېر د ترسره شویو اقداماتو په جنډر پورې اړوندو مشخصو پایلو ته رسیدګي وکړي.

- د تر ټولو زیات زیانمنیدونکو او تجرید شویو هغو په ګډون، درملنه باید له کوم توپیر او تبعیض پرته د هر فرد لپاره د لاس رسي وړ وي. دا په دې مانا، څو ډاډمن کړای شي چې هیڅ فرد د مناسبې او پر وخت درملنې څخه د دې لپاره نه دی منع شوی، ځکه چې هغوي د درملنې د تادیې امکانات نه درلودل، یا د عمر پر بنسټ، یا هم ځکه چې پیغور هغوي له درملنې څخه راګرځول.

## بیړني تدابیر/اقدامات

- دولتونه باید کوېډ-۱۹ ته د غبرګون په تړاو سختې پریکړې ترسره کړي. نړیوال قانون د پام وړ ګواښونو ته د ځواب ویلو په صورت کې د بیړنیو تدابیرو اجازه ورکوي – خو هغه تدابیر چې بشري حقونه محدودوي باید له ارزول شوي خطر سره په تناسب کې وي، اړین وي او په بې تبعیض ډول پلي شوي وي. دا د یوه مشخص تمرکز او مودې د درلودلو او د عامې روغتیا د ساتنې لپاره د تر ټولو د کمې اخلالوونکې طریقې د غوره کولو په مانا ده.

- کله چې بیړنی وضعیت اعلان شي، هغه دولتونه چې د مدني او سیاسي حقونو د نړیوال کنوانسیون غړي دي باید د عمومي منشي له لارې د رسمي خبرتیا د برابرولو خپل قانوني مکلفیت پوره کړي. د بشري حقونو سیمه ییز تړونونه د ورته مکلفیتونو درلودونکي دي.

- د کوېډ-۱۹ په تړاو، بیړني قوتونه باید یوازې د عامې روغتیا د مشروع موخو لپاره وکارول شي، نه باید د مخالفینو د ځپلو، د بشري حقونو د مدافعینو یا ژورنالستانو د خاموشه کولو لپاره د یوه بنسټ په څېر وکارول شي یا نور داسې ګامونه پورته کړي کوم چې یوه روغتیايي وضعیت ته د رسیدګي لپاره په پریکنده ډول اړین نه وي. ځینې حقونه آن په بیړني وضعیت کې هم نه شي محدود کیدای (د کمیدو نه وړ) لکه د عدم استرداد اصول، د ډله ییزې اخراجونې منع، د شکنجې او ناوړه چلند منع، د افکارو، وجدان او دین ازادي، او داسې نور.

- دولتونه باید اغیزمن شویو وګړو ته د بیړنیو اقداماتو په اړه معلومات ورکړي، دغه تدابیر چیرې او د څومره مودې لپاره د تطبیق وړ دي، او باید دغه معلومات په منظم ډول نوي/تازه کړي او په پراخه کچه یې د لاس رسي وړ وګرځوي.

- څومره چې ژر شونې وي، د دولتونه لپاره دا مهمه ده چې عادي ژوند ته راګرځیدنه ډاډمنه کړي او بیړني ځواکونه د یوې نا معلومې مودې لپاره د ورځني ژوند د تنظیمولو لپاره و نه کاروي، د دې په منلو سره چې غبرګون د ناورین د مختلفو پړاونو له اړتیاوو سره په سمون کې دی.

### هیڅوک شا ته نه پرېښودل

- د ټولو ټولنو، د هغو کسانو په شمول څوک چې د مختلفو لاملونو له امله عامه معلوماتو او خدمتونو ته په لاس رسي کې له ستونزو سره مخ دي، ځینو یې ژور توپیرونه یا سیاسي اختلافات منعکس کړي. د کوید-۱۹ معلومات او د غبرګون هڅې باید د هغو خلکو معلومولو ته ځانګړې پاملرنه وکړي څوک چې ښایي له یاده د وتلو یا تجرید له ګواښ سره مخ وي، لکه ملي، قومي یا مذهبي لږه کې، بومي خلک، کډوال، بېځایه شوي وګړي، مهاجرین، زیات عمر درلودونکي، معلولیت درلودونکي، لزبین، همجنس بازان، مخنثی، دوه جنسه او انټرسکس خلک (LGBTI) یا له سختې بې وزلۍ څخه اغیزمن شوي خلک.

- د بشري حقونو ملي ادارې، مدني ټولنه او ځایي ټولنې د هغو اشخاصو په پېژندلو کې مرسته کولی شي څوک چې ښایي له یاده ایستل شوي یا تجرید شو ي وي. نوموړې اداري دغو ګروپونو ته د معلوماتو له جریان سره مرسته او پر ټولنو د تدابیرو د اغیز په اړه له چارواکو سره نظرې او معلومات شریک کولی شي.

### میشتېدنه

- څرنګه چې پر خلکو غږ شوي چې په خپلو کورونو کې پاتې شي، دا خورا مهمه ده چې دولتونه له هغو خلکو سره چې مناسب هستوګنځایونه نه لري د مرستې چټک تدابیر ترسره کړي، او د هغو کسانو لپاره په کور کې پاتې کیدل او د فزیکي واټن ساتل خورا ستونزمن دي څوک چې په ګڼه ګوڼه کې ژوند کوي، بې کوره دي او هغه چې اوبو او روغتیا پالنې ته لاس رسی نه لري. په غیر مناسبو میشت ځایونو کې د میشتو او بې کوره خلکو د ساتنې لپاره په ښو مشقونو کې د بیړنیو میشت ځایونو (د میشتېدنې خالي او پرېښودل شویو واحدونو کارول، د لاس رسي وړ لنډ مهالي کرایه ځایونو په ګډون) برابرول شامل دي، کوم چې د هغو کسانو لپاره د خدمتونو درلودونکي وي چې د وایروس له خوا اغیزمن شوي او باید تجرید شي.

- چارواکي باید هدفي ګامونه پورته کړي څو د نورو خلکو د بې کوره کیدو مخه ونیسي، د بیلګې په توګه هغه خلک چې د عاید له لاسه ورکولو له امله له اخراجونې سره مخ کیږي او د اجارو او کراییو د تادیې وړتیا نه لري. د اخراجونې د مخنیوي او د اجارو/کرایې د تادیې د ځنډولو په څیر ښه مشقونه باید په پراخ ډول تکرار شي.

- کله او چیرې چې مخه نیونکي تدابیر نافذ شوي وي، هیڅ شخص نه باید د بې کورۍ یا په نا مناسب میشت ځای کې د اوسیدنې له امله مجازات شي.

### معلولیت لرونکي اشخاص

- معلولیت لرونکي اشخاص د کوید-۱۹ له لا زیات خطر سره مخ دي، او هغوي ته د رسیدګۍ لپاره دولتونه باید هدفي اقدامات په پام کې ونیسي. د ناورین د غبرګون تدابیر، روغتیایي او د ټولنیزې ساتنې منځګړیتوبونه باید ټولو ته د لاس رسي وړ وي او د معلولیت لرونکو اشخاصو پر وړاندې باید تبعیض و نه شي.

- فزیکي واټن، ځاني تجرید او نور بیړني اقدامات باید د معلولیت لرونکو اشخاصو اړتیاوې په پام کې ونیسي، څوک چې د اړین ژوندي پاتې کیدو لپاره د ملاتړ پر شبکو متکي دي او ځینې یې ښایي د قرنطین/تجرید پرمهال له پام وړ سټریس سره مخ شي.

- دولتونه باید د ناورین په اوږدو کې د معلولیت لرونکو اشخاصو د ملاتړ شبکو د تضمین او تداوم لپاره اضافه اقدامات ترسره کړي. کله چې پر خوځښت محدودیتونه موجوده کورنۍ او د ټولنیز ملاتړ شبکې له خنډ سره مخ کوي، نور خدمتونه یې باید ځای ونیسي.

- باید ډاډمن کړای شي چې د کمیابو سرچینو (لکه د وینټیلټور ماشینونه) د تخصیص په اړه پریکړې له پخوا څخه د موجوده زیانونو، د ملاتړ د لوړو اړتیاوو، د ژوند اروزونې د کیفیت یا د معلولیت لرونکو اشخاصو په ضد د طبي تبعیض پر بنسټ نه دي ترسره شوي.

- دولتونه باید ډاډمن کړي چې معلولیت لرونکي اشخاص په ادارو، پالنځایونو، رواني او نورو مرکزونو کې چې د وبا اصلي ځایونه ګرځیدلي له کوم ملاتړ پرته یوازې نه دي پرېښودل شوي او د دغو اشخاصو د ساتنې د ډاډمن کولو لپاره باید اقدامات ترسره کړي.

- د معلولیت لرونکو او د هغوي د کورنیو لپاره لکه څنګه چې زیاتره یې په هغو خدمتونو متکي دي کوم چې ځنډېدلي، ښایي د سرچینو د کموالي سره مخ شي کوم چې د دوي اساسي اړتیاووې تر پوښښ لاندې نیسي، اضافي مالي مرستو او ټولنیزې ساتنې ته لاسرسی مهم دی.

## د زیات عمر لرونکي اشخاص

- د زیات عمر لرونکي اشخاص د بل هر عمر لرونکي ګروپ د اشخاصو په څیر له ورته حقونو برخمن دي او هغوي باید د وبا پر مهال په مساوي ډول خوندي او وژغورل شي. طبي درملنې او نور ملاتړ ته په لاس رسي کې د تجرید او د فزیکي واټن او عمر پر بنسټ د تبعیض په پایله کې د بې پروایۍ په ګډون، هغو ځانګړو ګواښونو ته باید ځانګړې پاملرنه وشي چې د زیات عمر لرونکي کسان ورسره مخ دي. د لومړیتوب/ارجحیت ورکولو په اړه پروتوکولونه باید د ساینسي شواهدو او طبي اړتیاوو پر بنسټ وي.

## په توقیف ځایونو او زندانانو کې اشخاص

- په زندانانو، له محکمې څخه په مخکې توقیف، د کډوالۍ پر مهال په توقیف، د نشه یې توکو د درملنې په اجباري مرکزونو او په نورو توقیف ځایونو کې د افرادو په ګډون، له خپلې ازادۍ څخه محروم شوي اشخاص د وبا د شیوع پرمهال پر ناروغۍ د اخته کیدو له لوړ ګواښ سره مخ دي. په دغو ځایونو کې پر وایروس د اخته کیدو لوړ ګواښ شتون لري او د فزیکي واټن په پام کې نیول خورا ستونزمن وي. د ناورین د پلانولو او غبرګون پرمهال د دغو افرادو وضعیت ته باید په ځانګړي ډول رسیدګي وشي.

- دولتونه باید ځانګړي تدابیر تصویب کړي څو له خپلې ازادۍ څخه د محروم شویو ټولو افرادو لپاره معلوماتو او په مخه نیوونکي او نورې روغتیا پالنه کې مساواتو ته لاس رسي ډاډمن کړي.

- دولتونه باید په توقیف ځایونو کې د زیان د خطر د راکمونې په موخه د خوشې کولو او د توقیف د نورو بدیلونو لپاره ژر تر ژره د نورو انتخابونو په لټه کې شي، د هغو کسانو په ګډون چا چې کوچني او غیر تاوتریخجن جرمونه ترسره کړي، هغه چې د خوشې کیدو نېټې یې ځنډول شوي، هغه افراد چې روغتیایي وضعیت یې خراب وي او هغه چې له محکمې مخکې په اداري توقیف ځای کې بندي دي. هغه کسان چې له کوم قانوني بنسټ پرته بندي دي او دغه راز هغه اشخاص چې د نشه یې توکو د درملنې او د درملنې د پروګرامونو په مرکزونو کې توقیف شوي، باید خوشې کړای شي.

- د ماشومانو توقیف ځای ته باید د نویو هغو داخلیدل وځنډول شي او دولتونه باید ټول هغه ماشومان له توقیف څخه ازاد کړي څوک چې په خوندي ډول خوشې کیدای شي.

- په زندانانو کې د میشتو معلولیت لرونکو او د لوړ عمر لرونکو اشخاصو وضعیت په ځانګړي ډول جدي دی. د کورنیو د اړیکي محدودول ښایي د بیړنیو روغتیایي تدابیرو په څیر توجیه کړای شي، خو ښایي له زیاتې بې پروایي او سرغړونې سره د معلولیت او زیات عمر لرونکو اشخاصو د مخ کیدو لامل شي.

## معلومات او ګډون

- د کویډ-۱۹ د وبا او غبرګون په اړه اړوند معلومات باید له کومې استثنا پرته ټولو خلکو ته ورسیږي. دغه کار د ملي بومي خلکو، قومي او مذهبي لږه کیو د ژبو په ګډون، د پوهاوي وړ شکلونو او ژبو کې د معلوماتو د لاس رسي وړ ګرځولو او د شکلي او سمعي هغو په ګډون د ځانګړو اړتیاوو لرونکو اشخاصو لپاره د معلوماتو برابرولو او هغو کسانو ته د رسیدنې اړتیا لري چې د لیک لوست محدودې یا هیڅ ورتیا یا انټرنیټ ته لاس رسی نه لري.

• د دې ډاډمن کولو لپاره چې معلومات د وایروس له خوا اغیزمن شویو اشخاصو ته رسیږي، انټرنیټ ته لاس رسی خورا مهم دی. دولتونه باید د انټرنیټ اخلال یا بندونه پای ته ورسوي او هغه جاري/روښانه وساتي. دولتونه باید د جنډر د تشې په ګډون د ډیجټلي اختلافاتو له منځه وړلو لپاره د ګامونو په پورته کولو سره انټرنیټي خدمتونو ته تر شونې کچې د پراخ لاس رسي د ډاډمن کولو لپاره کار وکړي.

• خلک په هغو پریکړو کې د ګډون حق لري، کومې چې د هغوي ژوند اغیزمنوي. پرانیستې او شفاف اوسیدل او په پریکړه نیولو د اغیزمن شویو اشخاصو دخیلول د دې لپاره کلیدي ګڼل کیږي څو ډاډمن کړای شي چې خلک په هغو اقداماتو کې ګډون کوي چې د هغوي او په پراخه کچه د ټولو وګړو د روغتیا د ساتنې لپاره طرح شوي.

• طبي مسلکیان او اړوند کارپوهان باید د دې جوګه وي چې په ازاد ډول خبرې وکړي او له یو بل او خلکو سره معلومات شریک کړي. ژورنالستان او رسنۍ باید له ویرې یا سانسور پرته د دې وړ وي چې د هغه پوښښ په ګډون کوم د دولت د غبرګونونو لپاره خورا مهم وي، د وبا په اړه راپور ورکړي. له ناسمو یا ګمراه کوونکو معلوماتو سره د مبارزې لپاره چې ویره او تعصب پاروي، باید په داخلي او نړیوالو کچو متمرکزې هڅې ترسره شي.

• د کویډ-۱۹ په نړیوالو، سیمه ییزو او ملي برخو کې د ښځو د استازولۍ او مشرتابه نقشونو د یقیني کولو په ګډون، د وبا د خپریدو او غبرګون لپاره په چمتوالي کې د هغوي د نظریو، غږونو او پوهې رانغاړل خورا مهم دي.

## پیغور، پردي پالنه، توکمپالنه

• د کویډ-۱۹ وبا د مشخصو خلکو او قومي ګروپونو په ضد د پیغور، تبعیض، توکمپالنې او پردي پالنې یوه څپه رامنځ ته کوي. موږ د دغه جریان پر شا تمبولو لپاره ګډ کار کولو ته اړتیا لرو، د بیلګې په توګه دغې ناروغۍ ته د یوې جغرافیایي مرجع د کارونې پر ځای د کویډ-۱۹ هغې په څیر ګڼو.

• سیاسي مشران او نفوذ لرونکي کسان باید د هغه پیغور او توکمپالنې په ضد چې د دغه ناورین له خوا رامنځ ته شوي په بشپړ ځواک سره ویناوې وکړي او په هره بیه د دغه ډول تبعیض د راپارولو مخه ونیسي. دولتونه باید د هغو څرګندونو په وړاندې چې ویره رامنځ ته کوي په چټک ډول ګام پورته کړي او دا ډاډمن کړي چې کویډ-۱۹ ته د هغوي غبرګونونه مشخص وګړي د تاوتریخوالي او تبعیض په وړاندې لا زیات نه زیانمنیدونکي کوي.

• د کره، څرګندو او د شواهدو پر بنسټ د معلوماتو خپرول او د پوهاوي د لوړولو کمپاینونه د تبعیض او پردۍ پالنې په وړاندې کوم چې د ناسمو معلوماتو او ویرې له امله رامنځ ته شوي، تر ټولو موثرې وسیلې دي. د تبعیض او پردۍ پالنې د پېښو د څارنې لپاره نورو هڅو ته اړتیا ده او د دغه ډول هرې پیښې په وړاندې غبرګونونه باید چټک وي او د خلکو ترمنځ په ښه ډول عام شوي وي.

## مهاجرین ، بېځایه شوي وګړي او کډوال

• مهاجرین ، داخلي بېځایه شوي وګړي او کډوال له ځانګړو خطرونو سره مخ دي، ځرنګه چې ښایي هغوي په پنډغالو او میشت ځایونو کې بندي/قرنطین شوي وي، یا له ګڼې ګونې په ډکو، کمزورې روغتیا پالنې او مزدحمو یا د لاس رسي نه وړ روغتیایي خدمتونو درلودونکو ښاري سیمو کې ژوند کوي.

• مهاجرین او کډوال د ژبنیو او کلتوري خنډونو، لګښتونو، معلوماتو ته د لاس رسي د نشتون، تبعیض او پردۍ پالنې په ګډون زیاتره روغتیا پالنې ته په لاس رسي کې له خنډونو سره مخ وي. مهاجرین د خپل مهاجرت د وضعیت په پایله کې د توقیف، را ایستنې یا مجازاتو له ویرې په نامنظمو شرایطو کې نه شي کولی یا نه غواړي روغتیا پالنې ته لاس رسي ولري یا د خپل روغتیایي وضعیت په اړه معلومات ورکړي.

• دولتونه باید د کویډ-۱۹ په ملي مخنیوي او غبرګون کې د مهاجرینو، داخلي بېځایه شویو وګړو او کډوالو د شاملو لپاره مشخص ګامونه پورته کړي. په دې کې باید پرته له دې چې د هغوي وضعیت په پام کې ونیول شي ټولو مهاجرینو، داخلي

بېځایه شویو وګړو او کډوالو لپاره معلوماتو، ازموینې او روغتیا پالنې ته د مساوي لاس رسي او محافظتي دیوالونو ډاډمن کول شامل وي، څو د مهاجرینو او کډوالو له توان څخه د کډوالۍ د تنفیذ فعالیتونه جلا کړي تر څو وکولی شي روغتیا، د خوړو ویش او نورو اړینو خدمتونو ته لاس رسی پیدا کړي.

- نړیوال ملاتړ ته بیړنۍ اړتیا ده څو له کوربه هیوادونو سره د مهاجرینو، داخلي بېځایه شویو، کډوالو او ځايي ټولنو لپاره د خدمتونو په زیاتولو کې مرسته وشي او هغوي د مخنیوي او غبرګون په ملي ترتیباتو کې شامل کړای شي. په دغه کار کې پاتې راتلل به د ټولو روغتیا له ګواښ سره مخ کړي او د دښمنیو او پیغور خطر به زیات کړي. دغه راز باید د مهاجرینو، داخلي بېځایه شویو وګړو او کډوالو په ضد له دښمنۍ او پردي پالنې سره د مبارزې لپاره مشخص ګامونه پورته شي.

- همدارنګه دا خورا مهمه ده چې د پولې د کنترول سختول، د سفر محدودیتونه یا د خوځښت پر ازادۍ محدودیتونه د هغو خلکو مخنیوي نه کوي څوک چې د جګړې یا ځورونې له امله کډوال کیږي، یا هغه څوک چې ښايي د بشري حقونو تر نړیوال قانون لاندې خوندیتوب ته له لاس رسي او ساتنې څخه برخمن شي.

## ټولنیزې او اقتصادي اغېزې

- د ښوونځیو د تړلو په صورت کې چیرې چې شونې وي د آنلاین زده کړو او د تلویزیون او راډیو د ځانګړو خپرونو له لارې د پوهنې حق باید وساتل شي. نجونې ښايي په نا متناسب ډول اغیزمنې شي څرنګه چې یې زیات شمیر لا وار د مخه ښوونځي ته په تګ کې له پام وړ خنډونو سره مخ دي او اوس د دې شونتیا شته چې په کور کې زیات کارونه ترسره کړي. د هغو کسانو لپاره چې انټرنیټ ته لاس رسی نه لري محدود ښوونیز فرصتونه د نا برابریو او بې وزلۍ د زیاتولو ګواښ رامنځ ته کوي. نجونې او هلکان ښايي مغذي خوړو او نورو خدمتونو ته چې زیاتره یې ښوونځیو برابرول، لاس رسی له لاسه ورکړي.

- د ټولنیزې ساتنې پروګرامونه باید ماشومانو ته د هغوي د زیاتو زیانمنتوبونو له امله چې هغوي ورسره د هغوي د فزیکي، روښان فکرۍ او احساساتي پراختیاوو په لومړي پړاو کې مخ دي، ځانګړې پاملرنه وکړي. په غوره مشقونو کې د ماشومانو هغو کورنیو ته د نغدو مرستو لیږدونې شاملې دي کومې چې د ماشومانو د حقونو په ساتنه کې اغیزمنې شوي.

- د حکومتونو، دولتي او خصوصي سکتور، نړیوالو او داخلي ادارو له خوا ښه مشقونه چې د دغه ناورین منفي ټولنیزې-اقتصادي اغیزې راکمې کړي، باید له نورو سره شریک کړای شي.

- د هغو کسانو چې د دغه ناورین پر مهال کار کوي په ځانګړي ډول د روغتیايي کارمندانو مسلکي روغتیا او خوندیتوب باید و ارزول شي او رسیدګي ورته وشي. د روغتیايي کارمندانو او نورو هغو لپاره چې له خطره په ډک چاپیریال کې کار کوي باید د اړتیا سره سم د شخصي ساتنې کیفیت لرونکي وسایل برابر شي. هیڅوک باید اړ نه کړای شي چې په داسې شرایطو کې کار وکړي کوم چې د دندې یا معاش له لاسه ورکولو له امله په غیر ضروري ډول د هغوي روغتیا په خطر کې اچوي.

- د دغې وبا د ویجاړونکو پایلو د راکمولو په موخه د هغو کسانو لپاره چې لږ تر لږه له دغه ناورین سره د تعامل جوګه دي د مالي هڅوونکو مرستو او د ټولنیزې ساتنې د بستو برابرول خورا مهم دي. د ناورغۍ د تادیه شوې رخصتۍ، د بې کارۍ د تمدید شویو امتیازاتو، د خوړو د ویش، د ماشومانو د پاملرنې او د نړیوال اساسي عاید په څیر د چټکو اقتصادي مرستو اقدامات کولی شي د دغه ناورین له سختو اغیزو څخه په ساتنه کې مرسته وکړي.

## خواړه

- څرنګه چې پر خوځښت محدودیتونه او د محافظتي لباس کمښت د کرنې پر کارمندانو چې زیاتره یې کډوال دي اغیز کوي، د کویډ-۱۹ ناورین د خوړو ناخوندیتوب زیاتوي. د کرنې د کارمندانو د خوځښت او خوندي کاري چاپیریال د ډاډمن کولو لپاره باید ژر تر ژره اقدامات ترسره شي څو د خوړو تولید خوندي شي او همدارنګه باید د کوچنۍ کچې کروندګرو په ځانګړي ډول د ښځو لپاره د مالي ملاتړ او کریډیټ ته د لاس رسي هدفي تګلارې باید رامنځ ته شي.

• د وګړو د تر ټولو بې وزلو او تجرید شویو قشرونو لپاره د خوړو ناخوندیتوب ته د رسیدګۍ لپاره بیړنیو ګامونو ته اړتیا ده. د خوړو او تغذیې د مرستو د برابرولو په ګډون، د خلکو د غذایي اړتیاوو د پوره کولو په موخه باید ژر تر ژره اقدامات ترسره شي.

## محرمیت

• د روغتیا څارنه یو لړ وسایل رانغاړي کوم چې د افرادو چلند او خوځښتونه څاري. دغه ډول پلټنه او څارنه باید په ځانګړي ډول د عامې روغتیا په اهدافو پورې اړوند او د روغتیایي موخو لپاره وکارول شي او باید په ځانګړي وضعیت کې د دوام مودې او وسعت له پلوه محدوده وي. پیاوړي تضمینونه باید تطبیق شي څو ډاډمن کړای شي چې د دولتونو یا کمپنیو له خوا دغه ډول اقدامات د عامې روغتیا د ناورین د اهدافو پرته د محرمو شخصي معلوماتو د راغونډولو لپاره په ناسم ډول نه دي کارول شوي.

## ماشومان

• داسې ښکاري چې ماشومان له کوید-۱۹ څخه کمې نښې نښانې او د مړینو ټیټې شمیرې لري، د وایروس د خپریدو د مخنیوي لپاره د ترسره شویو اقداماتو په پایله کې په ورځني ډول د ماشومانو د ساتنې د پام وړ ګواښونه رامنځ ته شوي. دولتونه باید وبا ته د غبرګون او بیا د رغیدو د پلانونو د پلان او طبیق پر مهال د ماشومانو د ساتنې اړتیاوو او د هغوي حقونو ته زیاته پاملرنه وکړي. د ماشومانو غوره ګټې باید تر هر څه لومړی او د غبرګون مرکزي نکته وي.

• په ټوله نړۍ کې له ۱.۵ بیلیونه څخه د زیاتو ماشومانو د پوهنې حق اخلال شوی، په داسې حال کې چې ۱۸۸ هیوادونو په ټول هیواد کې ښوونځي تړلي.

• په کور کې د پاتې کیدو امر او قرنطین همدارنګه د ماشومانو رواني او ذهني روغتیا اغیزمنوي. په کورونو کې بند پاتې کیدل ماشومان د ناوړه چلند او جنسي تاوتریخوالي په ګډون د تاوتریخوالي له زیات ګواښ سره مخ کوي. له ګواښ سره د مخ ماشومانو لپاره د حمایت خدمتونه او سرپناوې باید د یوه لومړیتوب په څیر دوام وکړي.

• څرنګه چې د کورنۍ غړي ناروغیږي یا د کار کولو وړتیا له لاسه ورکوي، په میلیونونو ماشومان له بې وزلۍ سره مخ کیږي. پر سړکونو د اوسیدونکو ماشومانو، مهاجرینو او کډوالو ماشومانو، د انساني قاچاق د قربانیانو ماشومانو، د جګړې په سیمو کې د ماشونو او د معلولیت لرونکو ماشومانو په ګډون، په زیانمنیدونکو شرایطو کې ماشومان له ځانګړي ګواښ سره مخ وي.

## جنډر

• د دې احتمال شته چې په کورونو کې ښځې او نجونې د پالنې زیات نقشونه پر غاړه ولري، کوم څه چې هغوي له لا زیات سټریس او په بالقوه ډول پر وایروس د اخته کیدو له زیات ګواښ سره مخ کوي. په ټوله نړۍ کې، د قابله ګانو، نرسانو، فارمسیستانو، او په لومړیو کرښو کې د ټولنې د روغتیایي کارمندانو په ګډون، ښځې د روغتیایي کارمندانو ۷۰ سلنه جوړوي، چې له وایروس سره د مخ کیدو او پرې د اخته کیدو ګواښ زیاتوي. پر ښځو او نجونو د دغه ناورین نا متناسب اغیز ته د رسیدګۍ لپاره هدفي اقداماتو ته اړتیا ده.

• په زیات شمیر هیوادونو کې، ښځې د کار په اړوند سکتور کې له نا متناسبو ګواښونو سره مخ دي، چیرې چې زیات شمیر هغه یې په غیر رسمي سکتور (لکه کورنې کارګران، پالونکې، کرنې یا د کورنۍ له کاروبار سره مرسته کول) کې کار کوي، او ټولنیز امنیت، صحي بیمې یا د تادیه شوي رخصت د نه لرلو په پام کې نیولو سره ښایي لومړی هغه وي چې خپلې دندې له لاسه ورکړي او یا د دغه ناورین له ناوړو پایلو څخه اغیزمنې شي. زیات شمیر ښځې د ماشوم پالنې پر لاس رسي او د لګښتونو له عهدې څخه پر وتلو پورې متکې دي کوم څه چې اوس مخ په کمیدو دي او د ښځو د کار کولو او عاید ترلاسه کولو وړتیا لا زیاته محدودوي.

• په زیات احتمال سره چې د زیات عمر لرونکي شخې به په بې وزلۍ کې، یا له لږ یا هیڅ تقاعد سره ژوند کوي، کوم چې شايي د وايروس اغیز زیات او توکو، خوړو، اوبو، معلوماتو او روغتیايي خدمتونو ته د هغوي لاس رسی محدود کړي.

• د روغتیا مخه نیوونکي تدابیر لکه په کورونو کې د پاتې کیدو امرونه یا قرنطین، د جنډر پر بنسټ له تاوتریخوالي سره د مخ کیدو خطر زیاتوي، په ځانګړي ډول د صمیمي شریک/خاوند او دکورني تاوتریخوالي. د جنډر پر بنسټ د تاوتریخوالي له ګواښ سره د مخ قربانیانو لپاره د حمایت خدمتونه او سرپناوې باید د یوه لومړیتوب په څیر دوام وکړي، لکه د موثرو مراجعو او د قربانیانو د خوندیتوب لپاره د مناسبو ځایونو د شتون او لاس رسي ډاډمن کول. د اړیکو د شمیرو او د آنلاین خدمتونو په اړه معلومات باید د کویډ-۱۹ په اړه په پیغامونو کې شامل کړای شي.

• جنسي او د زیږون روغتیايي خدمتونه باید د ژوند ژغورنې د یوه لومړیتوب او د غبرګون حیاتي برخه وګڼل شي، لکه د امیندوارۍ مخنیوي، مورنۍ او د نو زیږدو پاملرنې ته لاس رسی؛ د جنسي سرایت کوونکو ناروغیو درملنه؛ د خوندي سقط جنین خدمتونه؛ او د ارجاع کولو موثرې لارې چارې. هڅې باید ترسره شي چې د جنسي او زیږون اړینو روغتیايي خدمتونو څخه منابع را و نه ګرځول شي، کوم چې به په ځانګړي ډول د ښځو او نجونو پر حقونو او ژوند اغیز وکړي.

• همدارنګه به د وبا پر مهال لزبین، همجنس بازان، مخنثی، دوه جنسه او انټرسکس (LGBTI) خلک له زیاتو خطرونو سره مخ شي، او د غبرګون په پلانونو کې باید مشخص اقدامات را ونغاړل شي څو دغو اغیزو ته رسیدګي وشي. اوسنۍ ډیټا په ډاګه کوي چې په احتمالي ډول لزبین، همجنس بازان، مخنثی، دوه جنسه او انټرسکس (LGBTI) خلک په غیر رسمي سکتور کې کار کوي او دغه راز د بې کارۍ او بې وزلۍ لوړې کچې لري. د ناورین پر مهال په دغو خلکو پورې اړوند ځانګړي روغتیايي خدمتونه لکه د ایچ آی وي درملنه او ازموینه باید دوام وکړي.

• دولتونه باید د هغو څرګندونو په ګډون چې لزبین، همجنس بازان، مخنثی، دوه جنسه او انټرسکس (LGBTI) خلک د دغې وبا لپاره ګرم ګڼي، هغو ناسمو معلوماتو ته رسیدګي وکړي چې د دغو وګړو په ضد لا زیات پیغور او تبعیض راپاروي.

## اوبه او روغتیا پالنه

• په صابون او پاکو اوبو سره د لاسونو پریمنځل د کویډ-۱۹ په ضد د دفاع لومړۍ کرښه ګڼل کیږي، خو ۲.۲ بیلیونه وګړي د اوبو خوندي خدمتونو ته له لاس رسي بې برخې دي. د هغو په ګډون چې اوبو ته نا کافي لاس رسی لري، د زیانمنیدونکو وګړو اړتیاوو ته رسیدګي د کویډ-۱۹ په ضد په نړیوالو مرستو کې د بریا د یقیني کولو لپاره خورا مهم دي.

• چټک اقدامات باید ترسر شي چې وکولي شي پر هغو خلکو چې د اوبو بیلونه نه شي تادیه کولی د اوبو د پرې کولو په مخنیوي کې مرسته وکړي او د ناورین پر مهال د بې وزلو او هغو کسانو لپاره چې له اقتصادي ستونزو څخه اغیزمن شوي وړیا اوبه، صابون او د لاسونو عقیموونکي برابر کړي (لکه په هغو ټولنو کې چې مناسبې روغتیا پالنې ته لاس رسی نه لري د ګرځنده ډسپنسرونو له لارې).

## بومي خلک

• دولتونه باید د بومي خلکو د دودیزو درملو په ګډون، د هغوي د روغتیا څرګند مفاهیم په پام کې ونیسي، د کویډ-۱۹ په اړه د مخه نیونکو تدابیرو په طرح کولو کې له بومي خلکو سره سلا مشورې وشي او مخکې له مخکې د هغوي رضایت تر لاسه شي.

• دولتونه باید د بومي خلکو سره د هغوي د استازولۍ د ادارو له لارې په سلا مشورو او همکارۍ کې د بومي خلکو سیمو ته د نورو خلکو پر ننوتلو د کنټرول لپاره اقدامات ترسره کړي.

• د هغو بومي خلکو لپاره چې د خپلې خوښې په تجرید یا په ابتدايي تماس کې اوسي، دولتونه او نورې خواوې باید هغوي د ځانګړو زیانمنیدونکو ګروپونو په څیر په پام کې ونیسي. د سیمې کلا بندي چې بهرني خلک د بومي خلکو سیمو ته له ننوتلو څخه منع کوي باید په سخت ډول تطبیق شي او له هغوي سره له هر ډول اړیکې څخه ډډه وشي.

## لړه کې

- دولتونه باید د کوویډ-۱۹ روغتیايي ناورین د هغو نا متناسبو اغېزو ته د رسیدګۍ لپاره اضافي اقدامات ترسره کړي، کومې چې ښايي په لرو پرتو سیمو او منطقو کې لړه کې اغېزمن کړي، چیرې چې هغوي زیاتره اړینو توکو او خدمتونو ته له محدود لاس رسي سره ژوند کوي. لړه کې زیاتره د هستوګنې له ګڼې ګوڼې په ډکو شرایطو کې ژوند کوي، کوم چې فزیکي واټن او ځاني تجرید له ننګونو سره مخ کوي. محدود ډیجیټالي لاس رسي او د میندو پلرونو تعلیمي تشې ښايي کورني ښوونځي لا ستونزمن کړي.
- د سرچینو یا رسمي اسنادو د نشتون، یا د پیغور او تبعیض له امله د دې شونتیا شته چې په لړه کیو پورې اړوند اشخاص له روغتیا پالنې محروم شي. دولتونه باید د هغو په ګډون چې صحي بیمه یا پیژند پاڼې نه لري د لړه کیو لپاره روغتیا پالنې ته لاس رسي ډاډمن کړي.

## نړیوال او یو اړخیز بندیزونه

- نړیواله ټولنه باید د ټولو هغو بندیزونو د لرې کولو، یا لږ تر لږه د ځنډولو لپاره مدافعه وکړي کوم چې له کوویډ-۱۹ سره په موثر ډول د مبارزې وړتیا ټکنۍ کوي او اړمن کسان له حیاتي طبي مرستو څخه بې برخې کوي.
- د بندیزونو له تطبیق کوونکو دولتونو غوښتنه کیږي چې ژر تر ژره د هغو اقداماتو بیا کتنه لغوه کړي کوم چې ښايي له کوویډ-۱۹ وبا سره د هیوادونو د غبرګون چارې له خنډونو سره مخ کوي، د هغو په ګډون کوم چې د درملو، طبي سامان الاتو یا نورو اړینو توکو د پیر او لیږد مخه نیسي، کوم چې د درملو، طبي سامان الاتو یا نورو اړینو توکو مالي تمویل یا د بشري مرستو رسول له خنډونو سره مخ کوي.